## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**4سنبله _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| سرپل کي لسګونو کور نيو سره نغدي مرستې وشوې | 1 |
| 27خانواده در ولایت خوست کمک شد | 1 |
| د ایران څخه له دوه زرو زيات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول | 2 |
| صد ها تن مهاجر افغان از پاکستان به کشور عودت نمود | 4 |
| د آلمان د تابعیت نوي قوانين به څه شی بدل کړي؟ | 4 |
| فرانسه: د شمالي سواحلو په اوږدو کې د شپې له خوا د کډوالو د مدافع سازمانونو سیارې ګزمې | 6 |
| بریتانیا: در یک سال گذشته بیش از ۱۷۵ هزار پناهجو منتظر پاسخ بوده‌اند | 11 |
| داکتران بدون مرز ۲۷۲ مهاجر را در مدیترانه نجات دادند | 12 |
| گارد ساحلی یونان ۵۰ مهاجر را از دریای اژه نجات داد | 14 |
| حکایت تلخی‌های مهاجرت از زبان افغان‌های برگشته از پاکستان | 15 |

# متن کامل اخبار

## سرپل کې لسګونو کور نیو سره نغدي مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت




**د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لورې په سرپل ولایت کې ۷۸ کورنیوسره د وړې په لومړۍ نېټه نغدي مرستې وشوې. دغه کورنۍ، چې مخکې د سرپل ولایت مهاجرینو چارو ریاست له لورې سروې او مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې د کور جوړولو په موخه هرې کورنۍ ته ۹۸ زره افغانۍ نغدې وویشل شوې.**

## 27خانواده در ولایت خوست کمک شد

ویب سایت وزارت




**برای 27 خانواده بیجاشده ، فقیر و نیازمند در ولایت خوست مساعدت موسسه هماهنگی کمک های انسانی بتاریخ  اول سنبله توزیع شد.**

**کمک یادشده مبلغ 22 هزار و 600 افغانی از جانب موسسه یادشده برای هر خانواده مستحق بود.**

## د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت




د ایران څخه دوه  زره او ۵۸۹ تنه افغان مهاجر د وړي په لومړۍ نېټه هېواد ته راستانه شول.

د هرات ولایت د اسلام قلعه د سرحدي آمر په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې۱۰۶۲ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.

## صد ها تن مهاجر افغان از پاکستان به کشور عودت نمود

ویب سایت وزارت



**827 نفر مهاجر افغان، از تاریخ 29 الی 31 اسد از پاکستان به وطن عودت نموده است.**

**به گفته آمر سر حدی ریاست امور مهاجرین قند هار در سپین بولدک، از جمله افراد مذکور 142 خانواده شامل 815 تن طور داوطلبانه و 13 تن دیگر محبوسین آزاد شده از حبس بودند که طور جبری برگشت داده شده اند.**

**منبع علاوه نمود که افراد مذکور بعد از ثبت و راجستر جهت ارایه کمک های اولیه به سازمان بین المللی مهاجرت و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی شدند.**

**همچنان یکتعداد آنهاکه به امراض مختلف مصاب بودند ، از جانب موسسه شبکه صحی بین المللی و اداره کلتور عمومی مدنی روانی، طور رایگان تداوی و از جانب انجمن مهاجرین دنمارک آگاهی لازم در مورد مواد منفجره به ایشان معلو مات داده شد.**

## د آلمان د تابعیت نوي قوانین به څه شی بدل کړي؟

مهاجرنیوز




**د آلمان کابینې د چهارشنبې په ورځ د دغه هیواد د تابعیت لپاره د نوو قوانیونو منظوري ورکړه .په نتیجه کې به یې آن درې کاله وروسته تابعیت ترلاسه کول ممکن شي.**

**د آلمان د ائتلافي حکومت کابینې د چهارشنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د اګست ۲۳ نېټه) هغه مسوده منظوره کړه چې د آلمان د تابعیت نوي قوانین به ورڅخه جوړیږي. دغه مسوده به د آلمان و مرکزي پارلمان بُنډستاګ ته او بیا د ایالتونو و شورا ته وړاندې کیږي مخکې له دې چې قابل عمل قانون وګرځي. خو په دغو قوانینو کې به څه شی نوی وي؟**

**ولې د تابعیت قوانین تغیریږي؟**

**د آلمان ائتلافي حکومت چې له سوسیال دموکرات، زرغون او لیبرال ګوندونو متشکل دی، د تابعیت د قوانینو تعدیل یې یو له مهمو پلانونو شمېرل کیږي. دغه تعدیل د ائتلافي حکومت د جوړولو لپاره په ځانګړې ترون کې هم ثبت شوی او ائتلافي ګوندونو باندې ځان مکلف کړی دی. د دغه قانون مقصد دا دی چې په آلمان کې ژوند کوونکي بهرنیانو ته د دغه هیواد د تابعیت ترلاسه کول آسان کړل شي. د آلمان د کورنیو چارو وزیره، نېنسي فېزر د چهارشنبې په ورځ دغه تعدیل د آلمان د سیال او په اړونده ډګر کې د عصري کېدو لپاره یوه مهمه کیلۍ وبلله. د دغې وزیرې په وینا دغه تعدیل په ټولنه کې د اصلاحاتو د رامنځته کولو یوه برخه ده.**

**د تابعیت په نوي قانون کې څه شی پلان شوي؟**

**په ټولیزه توګه باید د نوي قانون په رڼا کې د آلمان تابعیت ترلاسه کول آسان شي. د آلماني تابعیت ترلاسه کولو لپاره به اړینه نه وي چې مخکنی تابعیت ختم کړل شي. په دې توګه سره به نو مراجعین وکولای شي چې د آلمان د تابعیت تر څنګ خپل پخوانی تابیعت هم وساتي. تر اوسه پورې دغه حق د اروپایي اتحادیې د غړو هیوادونو وګړو، د سویس اتباعو یا هغو هیوادونو لپاره موجود و چې خپل تابعیت لرونکو ته د تابعیت لغوه کولو اجازه نه ورکوي. د مثال په توګه افغانستان، ایران، لبنان او سوریه هغه هیوادونه دي چې تابعیت لرونکي یې خپل تابعیت نشي لغوه کولای. د دې تر څنګ هغه آلمانیان چې د بل هیواد تابعیت ترلاسه کول غواړي، مجبوره نه دي چې خپل آلمانی تابعیت لغوه کړي.**

**کوم میعادونه په پام کې نیول شوي دي؟**

**په داسي حال کې چې پخوا حد اقل اته کاله په آلمان کې قانوني ژوند کولو وروسته یو بهرني د آلمان تابیعت ترلاسه کولای شوای، اوس دغه موده و پنځو کالو ته راکمه کړل کیږي. البته له دې وروسته به هم صرف هغه څوک تابعیت ترلاسه کولای شي چې په آلمان کې کار، د آلمان اساسي قانون ته په احترام قایل وي، آلماني یې زده وي، د آلمانی ټولنې او قوانینو په تړاو امتحان کې بریالی شوی وي، د لوی جرم له کبله بندي شوی نه وي او د یهودیت یا یهودیانو ضد نه وي. خو هغه کسان چې په ښوونځي، کار یا په رضاکارانه ډګر کې یې غیر عادي لاسته راوړنې لرلي وي او ښه مدغم شوی وي، هغه آن درې کاله وروسته هم د آلمان تابعیت ترلاسه کولای شي. د دې تر څنګ به هغه بهرنیان چې عمرونه یې تر ۶۷ کالو زیات وي، هغوی به د آلماني ژبې د لیکلي امتحان پر ځای په په زباني توګه امتحان ورکولای شي. د دې تر څنګ به په آلمان کې د بهرنیانو په کورنۍ کې پیدا شوي ماشومان تر پخوا په آسانه توګه د آلمان تابعیت ترلاسه کړلای شي.**

**د اټکل له مخې به کوم شمېر بهرنیان له نوي قانون څخه مستفید شي؟**

**د آلمان د حکومت د معلوماتو له مخې په دغه هیواد کې د اوسېدونکو وګړو ۱۴ فیصده یې داسي ده چې د آلمان تابعیت نه لري. په دې توګه نو د دغو کسانو شمېر تر ۱۲ ملیونو زیات دی. په دغو کې ۵،۳ فیصده یې داسي کسان دي چې لږ تر لږه له لسو کالو راهیسي په آلمان کې ژوند کوي .**

## فرانسه: د شمالي سواحلو په اوږدو کې د شپې له خوا د کډوالو د مدافع سازمانونو سیارې ګزمې

مهاجرنیوز



د مهاجرو د ملاتړ سازمانونه د فرانسې د پا دو کالي په شمالي سيمه کې له کډوالو سره د مرستې په موخه د شپې له خوا سيارې ګزمې ترسره کوي. دغه بنسټونه پر هغو کډوالو خواږه او کالي وېشي چې د انګليس کانال له لارې يې برېتانيا ته د اوښتو هڅه لرله، خو برياليي شوي نه دي. کډوال نيوز د يوتوپيا ۵۶ سازمان سياره ګزمه کې ګډون کړی او له ځينو مهاجرو سره يې ليدلي دي .

علي تر باران لاندې ولاړ دی او د ځان د ګرمولو لپاره چای څکي. د علي ترڅنګ يو بل کډوال هم ليدل کېږي. دا هغه کسان دي چې د پنجشنبې د سهار په ۷ بجو د فرانسوي ژغورونکو له خوا د ويمرو له ساحلي اوبو څخه ژغورل شوي دي .

علي چې ۲۱ کاله عمر لري او د سوريې څخه راغلی دی وايي: «کښتۍ له کډوالو ډکه شوې وه او تش ځای پکې نه و پاتې.» دغه ځوان مهاجر ۱۵ ورځې مخکې کالې ته رسېدلی او تر خيمې لاندې ژوند کوي. هغه وايي چې تر دې مهاله يې اووه ځله هڅه کړې چې په کښتۍ کې د انګليس کانال له لارې ځان برېتانيا ته ورسوي، خو برياليی شوی نه دی.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**علي د سوريې دی او غواړي چې برېتانیا کې له خپل ورور سره یو ځای شي. انځور: کډوال نیوز**

**د نوموړي په وینا ځینې شپې امنیتي ځواکونه د کډوالو د بېړیو مخه نیسي او ځینې وختونه هم کښتۍ تر اندازې زیاتې ډکې وي. په دواړو حالاتو کې کډوال بېرته سواحلو او یا بندرونو ته راوستل کېږي. د یوتوپیا ۵۶ سازمان په څېر د کډوالو د ملاتړ سازمانونه بنسټونه بیا پر دغو مهاجرو خواړه او ګرمې جامې وېشي.**

**بیا ولولئ :<u>له ۲۰۰ ډېر کډوال د سیلانیانو تر سترګو لاندې په کښتیو کې برېتانیا ته حرکت وکړ</u>**

**د سواحلو په اوږدو کې**

د سمندري ژغورونکو له خوا د علي او د هغه د ملګري تر ژغورل کېدو پنځه ساعته مخکې، د شپې په ۲ نیمو بجو، د یوتوپیا ۵۶ درې کارکوونکي ـ توما، سیلیا او پییر ـ د فرانسې د شمالي سواحلو په اوږدو کې د ګزمې لپاره تیاری نیسي.

توما او همکاران یې کالې ښار کې د یوتوپیا ۵۶ له ډیپو څخه ترپالونه، کمپلونه، بوټونه او ګرمې جامې اخلي او د اوبو او چایو ترموزونو ترڅنګ یې موټر کې باروي. دوی ورپسې د کالې د ساحل پر لور حرکت کوي.




توما او همکاره یې سیلیا د ګزمې تر پیل مخکې. انځور: کډوال نیوز

توما وایي: «موږ له کالې څخه حرکت کوو او ورپسې سنګات، ویمرو، بولونی سور مېر او ځینې وختونه توکې ته ځو «.

کډوال معمولاً د شپې په تیاره کې کښتیو کې د سپرېدو هڅه کوي. توما او همکاران یې هغو مهاجرو ته خواړه، کالي او یا هم عملي معلومات ورکوي چې کښتیو کې په سپرېدو بریالي شوي نه دي او یا هم له ډوبېدو څخه ژغورل شوي دي. دوی همداراز د کډوالو پر وړاندې د پولیسو تاوتریخوالی مستندوي.

توما وایي: «ډېری دغه کسان د منځني ختیځ او افریقا دي. په ډله کې یې کورنۍ او ماشومان هم شته. حاملې ښځې، معلولین او آن بوډاګان هم دي«.

بیا ولولئ :<u>د کډوالو قاچاق: «قاچاق وړونکي د تبلیغاتو لپاره له ټولنیزو رسنیو ناسمه ګټه اخلي«</u>

»چانس راسره مل نه و«

د یوتوپیا ۵۶ دغه کارکوونکي یوازې سواحلو ته نه بلکې د سرویسونو او اورګاډي اډو ته هم ځي او هلته هم پر هغو مهاجرو خواږه او یا کالي وېشي چې غواړي له سواحلو څخه کالې یا نورو سیمو ته ولاړ شي .

سیسیکو* یو له دغو کډوالو دی چې د پا دو کالې د اورګاډي په تمځي کې ولاړ دی. دغه ۲۴ کلن کډوال د اریتریا څخه دی او له تېرې یوې میاشتې راهیسې د سړکونو پر غاړه شپې سبا کوي. هغه چې نن شپه هم برېتانیا ته یې د تګ هڅه ناکامه شوې وایي: «دا شپږم ځل و چې هڅه مې درلوده کښتۍ ته پورته شم، خو دا وار هم چانس راسره مل نه و«.

سیسیکو زیاتوي چې نور دغه وضعیت زغملی نه شي، نو ځکه غواړي چې آلمان ته ولاړ شي .

»غواړم چې یو ځل بیا خپل بخت و ازمایم«

د فرانسې د پالې دو کالې قومندانۍ د تېرې پنجشنبې په ورځ پر خپله ټویټرپاڼه بولونی سور مېر کې د ۳۲ کسانو د ژغورنې خبر ورکړ. په دغه خبرپاڼه کې راغلي چې چهارشنبه سهار وختي د ژاندارمري ګزمه کوونکو یادې قومندانۍ ته اطلاع ورکړه چې له یوې کښتۍ څخه چې له اندازې زیات کډوال پکې سپاره ول څو کسان ښکته کړل شوي دي. خپرپاڼه کې زیاته شوې چې لږ وروسته ارمواز نومې ژغورونکې بېړۍ دوه تنه له سمندره وژغورل.

یادې قومندانۍ لیکلي دي چې په دغه سمندري زون کې له یوې بلې کښتۍ څخه هم ۳۰ کسان ژغورل شوي دي. د دغو کډوالو په کښتۍ کې اوبه ور دننه شوې وې. ژغورل شوي ۳۲ کسان د بولونی سور مېر بندر ته انتقال شوي دي .

د پنجشنبې د سهار د ۱۰ بجو په شاوخوا کې د یوتوپیا ۵۶ کارکوونکي د بولونی سور مېر بندر پر لور حرکت کوي ترڅو ژغورل شویو کډوالو ته خواږه او کالي ورکړي. دغه کسان تر باران لاندې له کښتۍ څخه ښکته کېږي.

اووه لس کلن داس چې د بندر د امنیتي دفتر د میلو تر شا ولاړ دی له یخنۍ لړزېږي. هغه چې له سوېلي سوډان څخه دی وایي چې کښتۍ ته یې اوبه ور دننه شوې وې. داس او ملګرو یې هڅه وکړه چې له بېړۍ څخه اوبه وباسي، خو بریالي نه شول.

دغه ځوان کډوال د لومړي ځل لپاره د سمندر له لارې برېتانیا ته د اوښتو هڅه کړې ده. هغه وایي: «که څه هم کښتیو کې له اندازې زیات کډوال سپاره وي، خو غواړم چې راتلونکو شپو ورځو کې یو ځل بیا خپل بخت و ازمایي«.

برېتانیا ته د کډوالو د اوښتو دوام

د برېتانیا لومړی وزیر ریشي سونک له ناقانونه کډوالۍ سره مبارزه خپل لومړیتوب بولي. که څه هم په انګلیس کانال کې د کډوالو شمېر د روان کال د جنورۍ څخه تر می میاشتې پورې د تېر کال د همدې مودې په پرتله کم شوی و، خو اوس یو ځل بیا برېتانیا ته اوښتونکو کډوالو شمېر کې زیاتوالی راغلی دی.

سږ کال تر دې دمه نږدې ۲۰۰۰۰ کسان په وړو کښتیو کې د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته اوښتي دي. په ۲۰۲۲ کې تر ۴۵۰۰۰ ډېرو کډوالو د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته رسولي وو .

لږ مخکې د برېتانیا چارواکو ویلي وو چې له ۲۰۱۸ راهیسې <u>تر ۱۰۰ زره زیات کډوال د سمندر له لارې برېتانیا ته اوښتي دي</u> چې په ډله کې یې ۸۶۰۰ افغانان هم دي.

بیا ولولئ :<u>د پاریس څارنوالۍ انګلیس کانال کې د کډالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې په اړه پلټنې پیل کړې</u>

په تېرو څو کلونو کې انګلیس کانال کې غمجنې پېښې هم رامنځته شوې دي. په وروستی پېښه کې چې د روانې اګست میاشتې په ۱۲مه په دغه سمندري لاره کې رامنځته شوه، شپږ افغانان مړه شول.

## بریتانیا: در یک سال گذشته بیش از ۱۷۵ هزار پناهجو منتظر پاسخ بوده‌اند

مهاجرنیوز



شمار متقاضیان پناهندگی منتظر پاسخ در بریتانیا در یک سال گذشته به گونه چشمگیری افزایش یافته و در پایان ماه جون به بیشتر از ۱۷۵ هزار نفر رسیده است. اکثر این پناهجویان بیشتر از شش ماه برای دریافت پاسخ منتظر مانده‌اند. طی یک سال گذشته ۴۱ درصد پناهجویان، مهاجرانی هستند که به گونه غیرقانونی از کانال مانش عبور کرده و به بریتانیا رفته‌اند.

بر اساس آمار منتشر شده، در پایان ماه جون ۱۷۵ هزار و ۴۵۷ پناهجو درخواست پناهندگی داده‌اند. این رقم ۴۳ درصد بیشتر از سال گذشته است. از زمان ثبت سالانه آمار پناهجویان در ۲۰۱۰ تا کنون، این بالاترین رقم محسوب می‌شود.

بیشتر بخوانید :ازسال ۲۰۱۸ بیش از ۱۰۰هزار مهاجر از طریق کانال مانش به بریتانیا رسیده‌اند

از میان پناهجویان یاد شده نزدیک به ۱۴۰ هزار تن، بیشتر از شش ماه منتظر پاسخ اداره مهاجرت مانده‌اند.

وزارت داخله بریتانیا با ذکر این که از ماه اپریل تا جون رقم پناهجویان تنها ۱ درصد افزایش یافته، تاکید کرده که «مهلت بررسی‌ها» به دلیل افزایش کارمندان، کاهش یافته است.

**از رقم عمومی یاد شده، بین ماه‌های جولای ۲۰۲۲ و جون ۲۰۲۳ حدود بیش از ۹۳ هزار درخواست پناهندگی جدید ثبت شده که این رقم ۱۹ درصد افزایش در یک سال را نشان می‌دهد.**

**در میان پناهجویان البانیایی‌ها، افغان‌ها و ایرانی‌ها به ترتیب در رده‌های اول تا سوم قرار دارند.**

**در همین زمینه :شش مهاجر افغان در کانال مانش غرق شدند**

**بیش از ۲۰ هزار پناهجو پاسخ مثبت دریافت کرده‌اند**

**مقام‌ها گفته‌اند که طی همین دوره ۲۰ هزار و ۸۸۸ پناهجو پاسخ مثبت دریافت کرده‌اند در حالی که بیش از ۱۵۴ هزار نفر با استفاده از میکانیزم مربوط به اوکراینی‌ها و هانگ کانگی‌ها وارد بریتانیا شده‌اند.**

**یک رقم قابل توجه دیگر هم شمار مهاجرانی است که بین جولای ۲۰۲۲ و جون امسال به گونه غیرقانونی از طریق کانال مانش به بریتانیا رفته و درخواست پناهندگی داده‌اند: این رقم ۴۱ درصد کل رقم پناهجویان طی یک سال اخیر را تشکیل می‌دهد.**

**علیرغم ادعای مقام‌ها مبنی بر کاهش شمار مهاجران غیرقانونی از کانال مانش، از آغاز سال ۱۹ هزار نفر وارد بریتانیا شده‌اند. ریشی سوناک، نخست وزیر بریتانیا تعهد کرده که با اقدامات چندین جانبه، جلو ورود مهاجران غیرقانونی از کانال مانش را خواهد گرفت.**

**در همین باره :شمار زیادی از مهاجران به ساحل جنوبی بریتانیا رسیدند**

**در ماه جولای پارلمان قانونی را به تصویب رساند که مهاجران غیرقانونی را از حق درخواست پناهندگی محروم می‌کند. این قانون از سوی سازمان‌های دفاع از حقوق بشر مورد انتقاد قرار گرفته است.**

**حکومت بریتانیا همچنین اعلام کرده تعدادی از مهاجران را به رواندا خواهد فرستاد. دادگاه با این تصمیم حکومت مخالفت کرده است.**

## داکتران بدون مرز ۲۷۲ مهاجر را در مدیترانه نجات دادند

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



کشتی سازمان داکتران بدون مرز توانست که چند گروه از مهاجران را در بحیره مدیترانه از خطر غرق شدن نجات دهد. این افراد در تلاش بودند که خود را به قلمرو اتحادیه اروپا برسانند و در میان آنان، چند فرد دارای معلولیت نیز حضور دارند.

خدمه‌های کشتی "جیو بارنتس" ۲۷۲ مهاجر را در بحیره مدیترانه از آب بیرون کشیدند. این کشتی زیر اداره سازمان داکتران بدون مرز فعالیت می‌کند. در میان افراد نجات یافته، ۹ کودک و پنج فرد دارای معلولیت نیز حضور دارند.

مرتبط:شمار مهاجران در ایتالیا از مرز ۱۰۰ هزار تن گذشت

این سازمان روز پنجشنبه در صفحه توییتر پیشین یعنی "اکس" اعلام کرد که کشتی مددرسان شان توانسته است که در چند عملیات جداگانه شماری از زنان، مردان و کودکان را سوار کنند. این گروه از قایق‌های آسیب پذیر و خیلی مزدحم به دست آمده اند. گفته می‌شود که بیشتر سرنشینان این قایق‌ها را افراد زیرسن و بدون همراه تشکیل می‌دهند.

در این مورد:اجساد شماری از مهاجران در برابر ساحل تونس از آب بیرون کشیده شدند

بر بنیاد گزارش‌ها، کشتی نجات "جیو بارنتس" را مقام‌های ایتالیایی به بندر بریندیزی در جنوب ایتالیا فرستاده اند .

بحیره مدیترانه یکی از مسیرهای خطرناک مهاجرتی در جهان پنداشته می‌شود .پناهجویان و مهاجران از مناطق مختلف به ویژه شهروندان افریقایی تلاش می‌کنند که با عبور از این مسیر دریایی خود را به قلمرو اتحادیه اروپا برسانند .

بیشتر بخوانید:ریکارد جدید در مهاجرت های غیرقانونی به اتحادیه اروپا ثبت شد

سازمان داکتران بدون مرز (آی او ام) اعلام کرده است که از آغاز سال روان میلادی تا به حال بیش از ۲۲۶۰ نفر در این مسیر جان باخته یا ناپدید شده اند.

## گارد ساحلی یونان ۵۰ مهاجر را از دریای اژه نجات داد

دویچه وله



ده‌ها مهاجر سوار بر یک قایق در نزدیکی ساحل جزیره ساموس به دست گارد ساحلی یونان افتادند. در همین حال پولیس قبرس یک باند قاچاق انسان را درهم شکسته است.

گارد ساحلی یونان روز پنج شنبه گفته است که ۵۰ مهاجر به شمول ۱۱ فرد زیر سن را از یک قایق در دریای اژه نجات داده است و همه این افراد در وضعیت صحی خوب قرار دارند.

گارد ساحلی افزوده است که در روزهای چهارشنبه و پنج شنبه مجموعاً ۱۴۷ مهاجر از دریای اژه در نزدیکی جزایر سانتورینی، لسبوس و رودس نجات داده شده اند.

مرتبط:نگهبانان ساحلی یونان۸۰ مهاجر را از دریای اژه نجات دادند

به گفته گارد ساحلی یونان، همه این مهاجران گفته اند که از سواحل ترکیه حرکت کرده و می خواستند خود را به یونان برسانند. تا به حال روشن نیست که آن ها شهروندان کدام کشورها هستند.

در عین زمان، پولیس قبرس از درهم شکستن یک باند قاچاق انسان خبر داده است.

چنانچه صفحه خبری «Philenews» روز پنج شنبه به نقل از پولیس گزارش داده است، پنج شهروند سوریه به ظن عضویت در این شبکه قاچاقبران در شهر بندری لیماسول دستگیر شده اند و هفت تن عضو دیگر زیر تعقیب و جستجو قرار دارند.

بیشتر بخوانید>ده‌ها مهاجر در یونان نجات یافتند و قاچاقبرشان بازداشت شد

بیشتر بخوانید: شورای اروپا خواستار تحقیق در مورد سانحه غرق شدن کشتی در یونان شد

باندهای قاچاقبران همواره مهاجران را با قایق های بادی و کشتی های فرسوده از طریق راه پرخطر بحری به اروپا انتقال می دهند.

در این سفرهای پرخطر اغلب حوادث مرگبار رخ می دهد؛ مثلاً در ماه جولای در غرب یونان یک کشتی ماهی گیری حامل حدود ۷۰۰ مهاجر غرق شد و تنها ۱۰۴ سرنشین آن نجات داده شدند.

## حکایت تلخی‌های مهاجرت از زبان افغان‌های برگشته از پاکستان

طلوع نیوز

دیدگاه‌هابرخی آگاهان مهاجرت می‌گویند که کشورهای همسایه به ویژه پاکستان باید با مهاجران افغان بربنیاد قوانین بین‌المللی عمل کنند .



برخی خانواده‌های که تازه از پاکستان به کشور برگشته‌اند، از دشواری‌ها و تلخی‌های مهاجرت حکایت دارند.

این خانواده‌ها می‌گویند که پولیس پاکستان در ماه های پسین به بهانه‌های گوناگون از آنان پول درخواست می‌کرد و مهاجران افغان را بازداشت و زندانی می‌ساخت.

دو تن از باشندگان ولسوالی خواجه غار ولایت تخار که بیست‌وپنج سال پیش به پاکستان رفته بودند و حالا به کشور برگشته‌اند، از تجربه‌های تلخ مهاجرت سخن می‌زنند.

سیدالرحمن سعادت، بازگشت کننده از پاکستان به خبرنگار طلوع‌نیوز گفت» :اگر کدام مشکل پیدا شود یا در میان افغان‌ها جنگ شود، یا در پاکستان دزدی یا کار دیگری شود، فورا پاکستان بر افغان‌ها اقدام می‌کند. افغان‌ها را بازداشت می‌کند، اگر آن کار را کرده باشد یا نکرده باشد«.

محمد یوسف، بازگشت کننده دیگر چنین می‌گوید: «به یک بهانه به بهانه دیگر همین‌که مشکلات در پاکستان جور می‌شد، باز افغان‌ها را بازداشت می‌کردند«.

از سویی‌هم، مسوول زون جنوبی شورای عالی متحد مهاجران افغان در پاکستان از بدرفتاری پولیس و نبود کار برای مهاجران افغان در پاکستان شکایت می‌کند .ملک اول خان میاخیل می‌گوید که زمان کارت اقامه بیشتر افغان‌ها در پاکستان پایان یافته است.

ملک اول خان میاخیل گفت: «ما مهاجران افغان از حکومت پاکستان، افغانستان و سازمان بین‌المللی مهاجرت تقاضا می‌کنیم که برای افغان‌های که قبلا کارت اقامه توزیع کرده‌اند، آن را جدید بسازند«.

برخی آگاهان مهاجرت می‌گویند که کشورهای همسایه به ویژه پاکستان باید با مهاجران افغان بربنیاد قوانین بین‌المللی عمل کنند.

نصیر احمد حیدرزی، آگاه مسایل مهاجرت گفت: «در بحث مهاجرین که در پاکستان به‌سر می‌برند، کشور پاکستان نه تنها این‌که مصونیت اخلاقی و اسلامی دارد، مصوونیت حقوق بشری نیز دارد و از مهاجرین که در آن‌جا به‌سر می‌برند به شکل درست میزبانی کند«.

این در حالی‌ست که وزارت مهاجران و برگشت کنندگان آمار داده است که بیش از ۱۴۰۰ مهاجر افغان در سه روز پسین از کشورهای پاکستان و ایران به افغانستان برگشته‌اند که در میان شان زنان، کودکان و شماری از زندانی‌ها از پاکستان نیز شامل اند.